نظرمحمد مطمئن
04/24/2017

# د بلخ او اچین بریدونه؛ د افغان جګړې پیچلتیا

لیکوال او شناند
له سوریې وروسته افغانستان د امریکا او روسیې د زور ازموینې په ډګر بدلیدونکی دی.
کندهارې پوځي جنرال عبدالخالق چې درې کلونه مخکې له مرګوني برید څخه ژوندی وتلی، وايي چې افغانستان دوزخ دی، موږ په دوزخ کې ژوند کوو.
په بلخ کې پر ۲۰۹ شاهین قول اردو حمله (۲۱ اپریل ۲۰۱۷) او په دومره لوی شمیر کې د افغان اردو دپوځیانو مرګ ژوبله، د رواني جګړې په اړه اندیښنې نورې هم زیاتوي.
بهرنیو نړیوالو رسنیو راپور ورکړ چې په یاد برید کې د طالبانو لخوا ۱۴۰ د اردو پوځیان وژل شوي، کورنیو رسنیو تر ۱۵۰ د زیاتو پوځیانو وژل او تر ۲۰۰ زیاتو ژوبل کیدو خبر ورکړی، طالبانو ادعاء کړې چې تر ۵۰۰ افغان پوځیان په یاد برید کې وژل شوي.
په ۲۰۹ شاهین قول اردو د طالبانو برید، د افغان حکومت، ملګرو ملتونو، امریکا، چین، هند، پاکستان، ایران او ګڼو نړیوالو لخوا په کلکو ټکو غندل شوی، روسیې تر دې مهاله غبرګون نه دی ښودلی.
پر شاهین قول اردو برید پر اچین د امریکا لخوا تر ټولو لوی مور بم تر ویشتلو (۱۳ اپریل ۲۰۱۷) اته ورځې وروسته وشو، ماته د اچین او بلخ بریدونو تر منځ نالیدلی تړاو ښکاري.
زما په نظر چې امریکا او روس د دواړو بریدونو تر پردې شاته اړوند موخو باندې ښه پوهیږي، په بلخ کې برید په یو ډول پر اچین د مور بم کارولو ته ځواب ویل ښکاري.
ښکاري چې امریکا او روسیه تر سوریې وروسته په افغانستان کې خپل زور ازمايي کوي، موږ مخکې هم ویلي وو چې د امریکايي پوځیانو شتون او د امنیتي تړون لاسلیک به په هیواد کې جګړه نږدې ۹ کلونه نوره هم اوږده کړي ( دامریکا سره د امنیتي تړون تر لاسلیک وروسته ۹ کلونه نوره جګړه).
په شاهین قول اردو باندې د طالبانو لخوا برید کې حتمي ده چې د حکومت له دننه له طالبانو سره مرسته شوې، ویل کیږي چې ۶ طالبان او ۴ تنه د یاد قول اردو پوځیانو برید کې برخه درلوده.
د قول اردو قومندان جنرال مومند کتوازی پخوانی چپی (پرچمی) وو، دهغه د کورنی غړي اوس هم په ماسکو کې میشت دي، تر قومندان په لاندې دندو کې هم پرچمیانو او د شمال ټلوالې قومندانانو په دندو کې شتون درلود.
لوی درستیز قدم شاه شهیم چې له برید وروسته یې په ۲۴ اپریل ۲۰۱۷ استعفی ورکړه، د شمال ټلوالې مشهور غړی او د ایران سره یې اړیکې ښې وي، ویل کیږي چې کله پر افغانستان د امریکا تر حملې وروسته په شمال کې طالبان له ماتې سره مخ وو، د احمدشاه مسعود او دوستم ډلو هر یوې یې غوښتل چې طالبان ورته تسلیم شي، د ایران یو لوړ رتبه هیئت د بسم الله محمدي او قدم شاه شهیم په مرسته داسې سیمې ته یوړل شو چې هلته له نظامي طالب مشر سره خبرې وکړي.
دفاع وزیر عبدالله حبیبي چې په افغان پوځ کې ۴۰ کلنه تجربه لري، د پخوانیو چپیانو له جملې څخه دی، دا ډول په امنیتي چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار جنرال محمد افضل لودین، د ماسکو د ګټو لپاره له ۱۹۷۹ تر ۱۹۹۲ پورې سختې جګړې کړي.
په امنیتي چارو کې د دولت وزیر امرالله صالح هم په تاجکستان کې زیات وخت تیر کړی، او طالبانو سره د شمال ټلوالې د جګړو پرمهال په منځنی اسیا کې د یادې ډلې د استخباراتو غړی، له روسانو او ایران سره یې ناستې کړې دي.
اوس چې په سیمه کې د امریکا او روسیې رقابت پیل شوی، په امنیتي ادراو کې د پورته کسانو شتون، پرته له شکه چې تر امریکا ځینې یې د روسانو او ځینې یې د ایران ګټو ته نږدې ښکاري.
ډیری شنونکي په دې باور دي چې د شاهین قول اردو په برید کې له طالبانو سره حکومتي لوړ پوړو کسانو مرسته کړې، سخته به وي چې له ۶ نظامي قراولونو څخه پرته له ستونزې طالبان د قول اردو د قوماندې مرکز ته ځان ورسوي، او هلته بیا پوځیان د خوړنځي په لورې د ځینو کسانو لخوا سوق کړل شي، او بیا په خوړنځی کې چاودنه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وشي، د قول اردو قومنداني ته نږدې ډزې پېل او د طالبانو د ادعاء له مخې تر ۵۰۰ پوځيان ووژل شي، طالبانو دغه برید د خپلو دوو والیانود غچ اخیستل یاد کړی.

د ۲۰۱۶ز.کال د نومبر پر ۱۱مه طالبانو په مزار شريف کې د جرمني پر کونسلګري داسي برید وکړ چې هرڅه يې له منځه يوړل، طالبانو وويل چې ياد بريد يې د کندز د ماشومانو په غچ کې کړی.

ویل کيږي چې د جرمني په کونسلګري کې د منځنۍ آسيا لپاره د امريکا لخوا د څارنې او استخباراتو پر مخ تللي وسايل نصب شوې وو، روسان په یاده موضوع خبر وو، دا ډول کله چې عطاء محمد نور (۱۷ اکتوبر ۲۰۱۶) سعودي عربستان ته له اجرايه رئيس عبدالله سره يوځای سفر وکړ، د ايران لخوا هم پر عطاء محمد نور باور کم شو. له همدې امله وه چې ممکن د یاد برید په ترسره کيدو کې له تخنيکې او د موقيعت او نظامي نقشي په برابرولو کې له طالبانو سره د ايران او روسيې مرسته شوې وي.

په یادودواړو بريدو کې ښکاري چې ايران او روسيې به په افغان دولت کې دننه د ځينو لوړ پوړو چارواکو څخه غوښتي وي چې له طالبانو سره د برید تر ځايه رسولو، تخنيکې او نظامي نقشو ورکولو کې مرسته وکړي.

په شاهين قول اردو برید دومره ننګونکی وو چې د ۲۰۱۷ ز.کال د اپريل پر ۲۴مه دفاع وزير عبدالله حبيبي، لوی درستيز ارکانحرب قدم شاه شهيم او د قول اردو قومندان جنرال مومند يې له امله له دندو وشړل شول ، د شاهين قول اردو په ګډون د دريو نورو (۲۰۹، ۲۰۷، ۲۰۵ او ۲۰۳) قول اردوګانو قومندانان له دندو ليري کړل شوو.

دا رنګه د امريکا دفاع وزير جيمز ماتيس هم د اپريل په ۲۴مه په يو ناڅاپې سفر کابل ته راورسيد، په داسي حال کې چې د افغانستان دفاع وزير او لوی درستيز دده تر راتګ لږ مخکي د خپلو استعفاوو اړوند خبرې ناسته درلودله.

د امريکا دفاع وزير جيمز ماتيس په افغانستان کې د امريکايي قواوو له مشر جنرال جان نيکلسن او ولسمشر ډاکټر غني سره ليدنه وکړه، او خپل ملاتړ يې له افغان حکومت سره اعلان کړ، د افغان حکومت له لوري د ۲۰۰ نظامي چورلکو د غوښتنې په جواب کې جيمز ماتيس وويل چې د ولسمشر ټرمپ اداره د افغانستان لپاره پر تګلاره کار کوي.

جميز ماتيس د جنرال جان نيکلسن سره يو ځای د خبرې ناستي پر مهال وويل چي روسيه له طالبانو سره نظامي مرستې کوي، د افغانستان د ښه پرمختګ په اړه پرته له امريکا بل هيواد پريکړه نه شي کولای. جيمز وويل چې د امريکا نفوذ او مداخله په افغانستان کې قانوني او د روسيې مداخله او نفوذ دلته غير قانوني دی.

افغان حکومت چې د طالبانو او پاکستان د منزوي کيدو هڅې کولي، د هند سره يې اړيکې ښې او له چين سره يې فاصله ونيوله، له روسيې سره يې اړيکې د امريکا د تګلارو پر بناء خړې پړې کړي، نتيجه يې داشوه چې پاکستان وتوانيدی چې د ماسکو، چين، ايران سره سيمييز ايتلاف جوړ کړی، او دغه ايتلاف د طالبانو له سياسي تګلارو څخه په سيمييزه او نړيواله کچه ننګه کوي.

پرته له پاکستان څخه، د چين، ماسکو ، ايران او طالبانو ترمنځ د نزديکت مهم ټکي په افغانستان کې د داعش ډلې اړوند ويره او اندیښنه، د امريکايي پوځيانو اوږدمهاله شتون (پاکستان هم ورسره ملګری دی) او په افغانستان کې د نشيې توکو کرکيله او زياتوالی دی.

د ولسمشر ټرمپ اداره چې د افغانستان اړوند تګلاره باندي کار کوی، هغوی به مجبور اً يو له دوو مني، داچې په افغانستان کې د داعش وسله والي ډلې په قوت سترګې پټې کړي، له روسيې، چين او ايران سره په همدې سيمه کې مقابلې ته ځان چمتو کړي، او یا داچې مخامخ له طالبانو سره خبرو ته مجبوره کيږي.

ښکاري چې امريکا به خپله وروستۍ زور ازموينه په افغانستان کې کوي، هغوی به د طالبانو مشران په نښه کوي او هغوی به وژني، ولي طالبان به يې په جواب کې د ځينو حکومتي چارواکو په مرسته د بلخ په ډول بريدونو لپاره تابيا نيسي، چې بيا هم ستونزه غټيږي او مشکل نه حل کيږي.

د بلخ برید موږ ۹۰مې لسيزي ته بيايې، د ډاکټر نجيب الله د حکومت پر مهال هم په حکومت کې دننه توکميز، ژبني، سيمييز او ګونديز اختلافونه دومره زيات شوې وو، چې مخنيوی يې ناشونی وو، همدا رنګه اوسمهال هم د حکومت د ننه ستونزې همدومره زياتي دي.

بلخوا مخکينی ولسمشر حامد کرزی هم لګيا دی، د ډاکټر غني د حکومت په بديل باندي کار کوي، د حراثت او ثبات شورا اړوند بيا ويل کيږي چې پر حکومت د سپينې کودتاه تابيا يې نيولي وه.

د کورنيو چارو د وزير اړوند هم ګنګوسي دي چې په سپينه کودتاه کې له حراثت او ثبات شورا سره ملګري به وو، چې د غني د حکومت لپاره به په راتلونکي کې سرخوږی وي، بلخوا وار له مخه په بلخ کې سياسي او سيمييز



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

واک له عطاء محمد نور او په کندهار کې سیاسي او نظامي واک له جنرال عبدالرازق سره دی، چې دواړه د مرکزي حکومت مطابعت ته زړه نه ښه کوي.
داسي بریښي چې موږ مجبوراً یوې بلې اوږدې جګړې ته ننوځو، داسې جګړه چې قربانیان به یې افغان ځوانان وي، او ګټې به یې امریکا یا ماسکو، پاکستان یا هند او ایران یا سعودي عربستان ته ځي.
په ښکېلو اړخونو ږغ کوو چې جګړه د حل لاره نه ده، جګړه ګټونکی نه لري، مرګ ژوبله موږ ته امنیت نه شي راوستلای، د پردیو پوځیانو په شتون کې سوله او امن نه شي راتلای، ښه داده چې افغانان په خپل کور کې پر یوه ټغر سره راټول، او ټولو پردیو ته په یوه ږغ د وتلو او په افغانستان کې د نه مداخلې ووايي.
که خدای مه کړه، د سولې لپاره ربښتوني هڅې ونه شي، موږ افغان ولس به د یوې پیچلې او خونړۍ جګړې قربانیان او ګټې به یې پردي هیوادونه ترلاسه کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ